# د افغان انګلیس په دوهمه جګړه کې د افغان مېرمنو، غازي ادې، زهرا، او ملالې مېوندۍ د کردارونو تاریخي جاج

## (د اسیاء په زړهٔ کښې طوفان تاریخي ناول په رڼا کښې)

# The Historical Analysis of the Afghan women's Ghazi Aday, Zuhra and Malali Mewandi Characters in the Second Anglo-Afghan War

## (In the light of " Da Asia pa Zra ke Tofan" Historical Novel)

Muhammad Ishaq Khawreen•

**ABSTRACT:**

In the late Nineteen and early twentieth century, different wars have been fought between Afghans and Britain. In these wars, the wars of 1878-1880 is known as Second Anglo-Afghan War. This war was launched as a three – sided attack at Koram, Bolan and Khyber on Afghanistan. Along with Afghan men, this war was joined by Afghan women as well. These women rendered remarkable sacrifices against the British Forces in this war. "Da Asia Pa Zra ke Tofan "is that historical novel that depicts the story of second Anglo-Afghan War. This research paper disclosed the noticeable and matchless characters of these Afghan women and analyzes through historical perspectives that if these women really joined these battles. Also the related exciting and pathetic incidents with these women will be revealed in this paper.

**Keywords**: Second-Anglo, Afgha, War, AfghanWomen's, Characters, Historical, Analysis.

د نولسمې او شلمې پېړۍ په اوږدو کې د انګرېزانو او افغانانو تر مېنځ بېلا بېلې جګړې پېښې شوي دي. په دغو جګړو کې چې کومه جګړه په (۱۸۷۸ء-۱۸۸۰ء) کلونو کې را مېنځ ته شوې ده، دغه جګړه په تاریخ کې د افغان

• Assistant Professor, Academy of Sciences of Afghanistan
m.ishaqkhawreen۸۸@gmail.com

انګلیس دوهمه جګړه بلل کېږي. دغه جګړه چې د انګرېز استعماري قوت له خوا پر افغانستان د درې اړخیز یرغل سره چې پکې د خیبر، بولان او کرمې درې شاملې وې، پیلېږي. په دغه جګړه کې نه یوازې افغان مېړونه د انګرېز استعماري قوت پر وړاندې جنګېدلي دي. بلکې افغان مېرمنو هم په دې جګړه کې برخه اخستې ده، او درنې قربانۍ ئې ورکړې دي. په پښتو ادب کې "د اسیاء په زړهٔ کې طوفان" یو هغه تاریخي ناول دے، چې د دې جګړې په پېښو لیکل شوے دے. په دې مقاله کې د همدې تاریخي ناول په رڼا کې د افغان انګلیس د دوهمې جګړې پر مهال د ځینو افغان مېرمنو کردار ته د تاریخ په تناظر کې ځېرېږو او دا په ډاګه کوو چې ایا واقعي دغو مېرمنو په افغان انګلیس جګړه کې برخه لرلې ده؟ که هو نو نوعیت یې څه ؤ؟،دغه ډول په ناول کې د دې مېرمنو سره تړلو راغلو پېښو ته ځیرېږو او دا په ډاګه کوو چې دغه پېښې، څومره تاریخي صداقت لري؟ او په تاریخ کښې د دې مېرمنو په اړه څه راغلي او څه خوندي شوي دي.

وړاندې له دې چې د افغان انګلیس د دوهمې جګړې پر مهال په ناول کښې راغلې د یادو مېرمنو سره تړلې پېښې د تاریخ په تناظر کښې وڅېړو. دا ضروري ګڼو چې په همدې جګړه کښې د افغان مېرمنو د کردار په اړه یو واضح تصور مخې ته راوړو. په دې کښې شک نشته چې پښتانه افغانان د تاریخ په اوږدو کښې د یوناني سکندر (۳۵۶ق م-۳۲۳ق م) له یرغلونو را واخلې تر موجوده دور پورې د هر استعماري قوت پر وړاندې را پاڅېدلي دي، مزاحمت او مبارزه یې کړې ده، درنې قربانۍ یې ورکړې دي، ولې تسلیم شوي هېڅکله نه دي. دا بېله خبره ده چې دوی د خپلو جګړو ګټې هغسې خوندي کړې نه دي څنګه چې لازمي او ضروري وې. دغه ډول په دې کښې هم هیڅ شک نشته چې په هر دورکښې د هر استعماري قوت پر وړاندې افغان مېرمنې هم د خپلو پلرونو، وروڼو او اولادونو تر څنګ ولاړې او د هغوی ملاتړې پاتې شوي دي. او بیا د افغان انګلیس په دوهمه جګړه کښې د افغان مېرمنو مبارزه خو لکه د لمر روښانه ده چې انکار ترې په هیڅ صورت ممکن نه ښکاري. ځکه د افغان انګلیس د دوهمې جګړې اړوند تاریخونه ډېر داسې مطالب لري، چې زمونږ پورتنۍ دعوٰی ترې په اسانۍ سره ثابتېږي. چې د دلیل په توګه به یې دلته یو دوه

نمونې راوړل بې ځایه نه وي. د افغان انګلیس په دوهمه جګړه کښې د افغان مېرمنود کردار په اړه میر غلام محمد غبار داسې لیکلي دي:

"د کابل ښځو د غرونو سرونو ته د ډوډۍ او اوبو رسولو دنده پر غاړه واخیسته، ډلو ډلو مېرنیو مېرمنو د اوبو کوزې او ډوډۍ تړلې غوټې په لاس لکه د غرڅو په څېر د غرونو په ډبرو کښې ځغاستلې او جنګیالیو ته یې خواړه رسول، چې شمېره یې څلور سوه کسانو ته رسېده او ۸۳ کسان یې د کوه اسمایي په جګړه کښې شهیدانې شوې"(۱).

دغه ډول په افغان انګلیس دوهمه جګړه کښې د افغان مېرمنو د ونډې او کردار په اړه میرا جان سیال مومند داسې لیکي:

"د کابل اوسېدونکو ننګیالو مېرمنو هم توره کوله او دکابل د غرونو سرونو ته به یې په غازیانو پسې ډوډۍ او توښې رسولې او د اوبو ډک منګي به یې په اوږو وو او په مورچلو کښې به یې غازیانو ته خوراک څښاک رسولو او د مېړونو نه وروسته نه وې پاتې"(۲).

له پورتنیو حوالو څخه په ډاګه کېږي چې د افغان انګلیس د دوهمې جګړې پر مهال کله چې انګرېزي فوځونه کابل ته را ورسېږي او مبارزین د هغوی سره د جګړې او مقابلې لپاره په غرونو (غونډیو) کښې سنګرونه ونیسي، نو افغان مېرمنې، افغان مبارزینو ته د خوراک، څښاک د توکیو رسولو ذمه واري په خپلو غاړو واخلي، چې د دغه مهم د سر ته رسولو په وخت کښې یې ځینې خپل ژوند هم له لاسه ورکړي.

دا چې زمونږ موضوع د افغان انګلیس د دوهمې جګړې په دوران کښې "د اسیاء په زړه کښې طوفان" تاریخي ناول په رڼا کښې یوازې د درې افغان مېرمنو، غازي ادې،زهرا او ملالۍ مېوندۍ کردار د تاریخ په تناظرکښې څېړل دي په دې وجه خپلې اصلي موضوع ته را ګرځو او د دې افغان مېرمنو اړوند په ناول کښې راغلې پېښې او معلومات د تاریخ په کتابونو کښې ګورو او تاریخي صداقت یې مخې ته راوړو چې په ترتیب سره ورته په لاندې ډول ځیر یږو.

**غازي ادې:**

غازي ادې زمونږ د تاریخ یوه هغه مېړنۍ مېرمن ده چې د افغان انګلیس په دوهمه جګړه کښې یې په بشپړه مېړانه برخه اخستې ده. او له وطن

څخه د دفاع په لاړ کښې یې درانه زیارونه ګاللي او درنې قربانۍ یې ورکړي دي. چې په افغان انګلیس دوهمه جګړه کښې د دوی کردار او مېړانه لکه د لمر روښانه ده. او د افغان انګلیس د دوهمې جګړې په اړوندو تاریخونو کښې یې تذکره لیدل کېږي چې په یاده جګړه کښې د برخې اخستلو په اړه یې سید محی الدین هاشمي او محمد ولي زلمي داسې لیکلي:

"غازي ادې هغه نومیالۍ مېرمن ده چې زمونږ په هېواد باندې د انګرېزانو د دوهم تېري (۱۲۵۷ ه ش ۱۸۷۸م کال) پر مهال یې د دین او وطن د دښمنانو پر وړاندې په جهاد او ملي جګړه کښې عملاً برخه درلوده، د یادونې او ستاینې وړ کانامې یې تر سره کړي دي"(۳).

"دا یوه توریالۍ او مبارزه افغانه وه چې پر افغانستان باندې د انګرېز په دوهم یرغل کښې یې د وطن د خاورې او ملي نوامیسو څخه په ډېره دلاورۍ دفاع کوله"(٤).

د غازي ادې اړوند په ناول او تاریخي متونو کښې د راغلو معلوماتو څخه څرګندېږي چې غازي ادې د کټواز سیمې اوسېدونکې او سلېمان خېله پښتنه وه چې د پېواړ په مقام یې د جنرال رابرټس د لښکر په وړاندې د کورنۍ ځینې غړي له لاسه ورکړي وو چې په اړه یې په ناول کښې داسې راغلي دي:

"غازي مور په اصل سلېمانخېله او د کټواز ده د دې پلار (حبیب اکا) په خپله یو زړور سړے و او د میکناټن پرنګي د لښکرو سره یې ډېرې غزاوې کړې وې او خلکو به (لوی اکا) هم ورته ویل. غازي مور د لوګر په خوشي کښې اوسېدله او پروسږ کال چې د (رایټ پرنګي) لښکر پر پېواړ راغے د دې مېړه او ځوان زوی د نورو پښتنو سره د هغو جګړې ته ورغلل دوی خورا ډېر پرنګیان ووژل څو دوی هم په شهادت ورسېدل"(٥).

د غازي ادې اړوند په ناول کښې راغلي پورتني ټول معلومات تاریخي صداقت لري ځکه چې په تاریخي متونوکښې د غازي ادې په اړه له خوندي شویو معلوماتو څخه دا په ډاګه کېږي چې غازي ادې په ختهٔ سلېمانخېله او د کټواز

اوسېدونکې وه او هر کله چې يې خاوند او زوی د جنرال رابرټس د لښکر په وړاندې د پېواړ په جګړه کښې په شهادت ورسېږي نو غازي ادې په ذاتي توګه د مبارزينو ملګرې شي او نه يوازې د اولسي پاڅون لپاره د خلکو او مېرمنو په راټولو پېل وکړي بلکې د مبارزينو تر څنګ د انګرېزانو پر وړاندې وسله واله مبارزه هم پېل کړي البته په ناول کښې چې حبيب اکا د غازي ادې پلار ښودل شوے دے د تاريخي روايتونو سره سمون نه خوري ځکه چې د تاريخي متونو له مخې غازي ادې د حبيب اکا سره د لور او پلار نه بلکې د خاوند او مېرمن رشته لرله چې په اړه ې محمد ولي زلمي داسې ليکلي دي:

"د غازي ادې اصلي نوم شبيعه وه په کلي او کورنۍ کښې د الماسې په نامه مشهوره وه دا د هېواد د جنوبي سيمې کټواز اوسېدونکې وه او په خټه سليمانخېله وه- - - مېړه يې حبيب الله نومېده چې خلکو به حبيب اکا ورته وايه همدا شان وروسته د ډېرې سپين ږيرتيا له کبله به لوی اکا هم باله کېده. په دغې ملي مبارزې کښې د غازي ادې مېړه او ځوان زوی د پکتيا د يو شمېر نورو ملي مدافعينو سره شهيدان شول دغې حادثې- -- د دې ملي احساسات او د انګرېزانو څخه د انتقام اخستلو جذبه په ښور راوستله--او په مستقيم ډول يې د وطن د دفاع او د ملي نواميسو په ساتلو کښې برخه واخسته"(٦).

مونږ په ناول کښې وينو چې کله د جنرال رابرټس لښکر د پېواړ په لوړه څوکه کښې د افغان مبارزينو له سخت مقاومت څخه وروسته د لوګر د زرغون ښار نه په را تېرېدو د مبارزينو سره د نښتو په ترځ کښې کابل ته را ورسېږي. په دغه وخت کښې په کابل کښې د افغان مبارزينو يو مشر غازي محمد جان خان د کابل قاضي کلا ته د غازي ادې له خپل جنګي ټولي سره د را رسېدو څخه خبر شي. چې د دې وياړلې مېرمن د خدماتو او د عظمت د اعتراف په توګه هغې ته يو اس د تحفې په توګه وړاندې کړي چې غازي ادې يې مننه ادا کړي، ولې د اس تحفه يې قبوله نه کړي چې د دوی تر مېنځ تر سره شوې دغه مکالمه په ناول کښې داسې راغلې ده:

"تا د لوګر له (خوشي) څخه بیا تر دغه ځایه چې دلته را رسېدلې یې د پرنګي سره داسې جنګونه کړي دي چې د دښمنانو په زړه کښې یې وېره اچولې ده--- غازي مورې ته به په دغه اس سپره شې ښځې چې اس ته وکتل بیا یې په تعجب سترګې محمد جان خان ته واړولې او ویې ویل، محمد جان خانه! زما مېړه او زوی تر پېواړ پورې پیاده ولاړل او هلته یې د پرنګي په جنګ کښې شهادت په نصیب شو زه به څرنګه د دې ځایه تر علي اباد پورې په اس سپرېږم پرېږده چې د خپلو ملګرو سره همداسې پلې ولاړه شم"(۷).

د لوګر له خوشي سیمې څخه د کابل تر څنډو پورې د غازي ادې له خوا د انګرېزانو سره نښتې او جګړې، په کابل کښې ورته د غازي محمد جان خان له خوا اس په تحفه کښې وړاندې کول او د غازي ادې له خوا دغه تحفه نه منل لکه څنګه چې په ناول کښې راوړل شوي دي تاریخي صداقت لري چې په اړه یې محمد ولي زلمي داسې لیکلي دي:

"د پېواړ د لوګر د خوشي، چهار اسیا او سنګ نوشتې په غزاوو کښې یې دومره دلاوري، مېړانه او ملي شهامت ښکاره کړ چې د نورو ملي مدافعینو د ننګ او غبطې احساسات په ښور راوستل---جنرال محمد جان خان وردګ چې د غازي ادې د مېړانې او ملي شهامت څخه خبر شو د دې په مېړانې او قومي غیورۍ یې افرین او شاباش ووایه دې ته یې د توپخانې څخه یو اس د پوره برق سره ور وبخښه او ورته ویې ویل څرنګه چې ته د جنګ سفرونه په لوڅو او یبلو پښو کوې او ډېره زهیره شوې یې وېرېږم چې له ملې معرکې څخه ونه لوېږې دغه اس واخله او د سفر په وخت کښې یې استعمالوه او هم دغه یو شاطر به ستا د اس ساتنه او پالنه کوي---خو غازي ادې مخ ور واړاوه او په تبسم سره یې ورته وویل ستاسو ویناواقعیت لري خو زه به سبا د خپل شهید مېړه او زوی خجله یم او ما ته به وایي چې ستا ځان تر مونږ علاوه او شېرین و چې د اخرت سفر پلې نه وهې نو

ځکه يې د اس او شاطر د منلو څخه عذر وغوښت او ډډه يې ځنې وکړه"(۸).

موږ په ناول کښې وينو چې کله په اسه مايي کښې انګرېزان ماتې وخوري او تېښته پېل کړي تر څو په شېرپور کښې پناه واخلي په دغه وخت کښې د تښتېدونکي انګرېزي لښکر يوه برخه د غازي ادې په ټولي ور برابره شي او جګړه ونښلي چې په دغه جګړه کښې غازي ادې خپل ژوند له لاسه ورکړي چې په اړه يې په ناول کښې داسې راغلي دي:

"د اسه مايي څخه د انګرېز لښکر را مات شو او چې شاته يې ځغستل په دوی پسې د پښتنو لښکر را روان و او دوی يې ويشتل کله چې غازي مور ته لښکر را نږدې شو هغې خپل ټولي ته قومانده ورکړه زامنو او لوڼو د پرنګي په لښکر ګډ شئ او مړه يې کړئ انګرېزان دوی ته متوجه نه وو چې په ناڅاپي ډول دا ښځې او ځوانان په ور ګډ شول او څرنګه چې لاس په لستوڼي جنګ و د هغو د ډېرو پرنګيانو خېټې څيرې شوې نور يې په وارخطايي سره بيل شول او هرې خوا ته يې ځغاستې پيل کړې--په دغه وخت کښې له مخامخ څخه يو مردک راغے او د غازي مور په ځيګر وموښت--- د هغې سترګې پټې شوې"(۹).

د انګرېزانو سره د جګړې پر مهال د غازي ادې خپل ژوند له لاسه ورکول تاريخي صداقت لري ځکه چې موږ په تاريخي متونو کښې وينو چې هر کله د قلعه قاضي له جګړې وروسته د قروغ د غره په لمنو کښې انګرېزان ماتې وخوري او شېرپور ته په شاه شي په هم دغه وخت کښې چې مبارزينو د شېرپور په کلا حمله پېل کړي وي غازي ادې د جنګ په دوران کښې د شهادت مرتبه ومومي چې په اړه يې محمد ولي زلمي داسې ليکلي دي:

"غازي ادې د قلعه قاضي څخه د چاردهي په لور د لښکرو د رهي کېدلو او علي اباد ته د رسېدلو په اثنا کښې کله د لښکرو تر مخه کله تر شا د نورو ښځمنو ملي مبارزينو د تنظيمولو لپاره حرکت کاوه او د جهاد او غزا په ملي لنډيو سره يې د ملي مبارزينو او

ښځمنو غازیانو روحیات قوي ساتل-- د قلعه قاضي له غزا وروسته د قرغ په غره کښې چې د انګرېزانو د لویې قوا په مقابل کښې شدید جنګ وموښت په دې جنګ کښې ملي مبارزینو زیاته مېړانه وکړه--او انګرېزان یې د شېرپور په کلا کښې محصورکړل ملي مبارزین او قومي غازیان چې د غازي ادې په مشرتابه جنګېدل او درې سوه ګامه پاتي و چې کلا ونیسي په دې وخت کښې یو دم د غازي ادې ملي شعارونه او تکبیرونه کرار شول هغه وخت چې یې کلا ونیوله که ګوري هلته غازي ادې د شا پر تخت لوېدلې او مخ یې د اسمان لور ته ګرځولے ۇ د سینې او خولې څخه یې وینو دارې وهلې او رنګ یې یو مخ ژړ ګرځېدلی ۇ او نور یې د ژوند هیڅ امېد نه و"(۱۰).

د غازي ادې اړوند په ناول او د تاریخ په کتابونو کښې له راغلیو معلوماتو څخه څرګندېږي چې د افغان انګلیس په دوهمه جګړه کښې د غازي ادې کردار تاریخي صداقت لري چې د دغې جګړې پر مهال یې زوي، خاوند او خپله د یو شمېر نورو مبارزینو سره یو ځای د وطن د دفاع په لاړ کښې د خپلو سرونو قرباني ورکوي او د تل دپاره خپل ځانونه په تاریخ کښې خوندي کوي.

## زُهرا:

د افغان انګلیس د دوهمې جګړې په اړوندو تاریخونو کښې مونږ وینو چې هر کله انګرېزي استعمار په کابل کښې د خپل سفیر مېجر کیوناري د قاتلینو د مجازات کولو لپاره جنرال رابرټس ته د کابل په لور د وړاندې تګ امر وکړي او کابل ته ننوزي نو څه وخت وروسته د مبارزینو سره د جګړو په ترخ کښې ماتې وخوري او د شېرپور په کلا کښې د مبارزینو له خوا محاصره شي په دغو ورځو کښې د کابل د عاشقان او عارفان سیمې یو ځوان عبدالله چې د زهرا نومې پېغلې سره یې کوژدن شوې وي د خپل واده ترتیبات ونیسي او هر کله چې د ډولۍ راوړولو لپاره د زهرا کور ته ور شي نو د نکریزو د رسم د تر سره کولو پر وخت د عبدالله ناوې زهرا، له هغه څخه د واده کولو پر ځای د انګرېزانو سره په روانه جګړه کښې د برخې اخیستو غوښتنه وکړي چې عبدالله یې ورسره ومني او په شپه شپه مبارزینو ته ځان ور ورسوي چې په اړه یې په ناول کښې داسې راغلي دي:

"د ۱۸۷۹ء کال د دسمبر ۱۳ ورځ د کابل په ښار کښې پر پرنګي د غلبې یوه خوشحاله ورځ وه--- په دغه ورځ د عاشقانو او عارفانو د کوڅې یو ځوان اوسېدونکي تصمیم ونیوچې د پرنګي د ماتې په خوښۍ کښې د واده شپه جوړه کړي--- دوی د خوښیو په څپو کښې د ناوې کره ورسېدل---ځوانې ناوې خپل زرین څادر له سر څخه خطا کړ---په دغه وخت کښې ناوې حتی سترګې نه خلاصوي خو زهرا خپل څادر هم له سره پورته کړ---زهرا په ناڅاپي ډول مخ عبدالله ته را وګرځاوه او ویې ویل: ته باید همدا اوس جنګ ته روان شې او د نورو ځوانانو سره یو ځای شې دا ماته پېغور دے چې نور ځوانان د جنګ په مېدان کښې وي او ته دلته د واده په جشن کښې کینې--- عبدالله په چټکۍ له تخته را ښکته شو--- کور ته راغے خپل ټوپک یې واخیست او روان شو--- ځان یې حشمت خان کلا ته ورساوه"(۱۱).

د مبارزینو له خوا په شېرپور کښې د انګرېزانو د کلابند کولو پر مهال په ناول کښې راغلې د کابل د عاشقانو او عارفانو سیمې د عبدالله او زهرا اړوند پېښه تاریخي صداقت لري چې په اړه یې مورخ میر غلام محمد غبار داسې لیکلي دي:

"د کابل د عاشقان و عارفان د سیمې نوے زلمے له خپلې ګاونډۍ زهرا نومې جلکۍ سره کوژدن و د ډسمبر په دیارلسمه نېټه مازیګر مهال د ناوې په کور کښې د نکاح د مراسمو غونډه را مېنځته، مابښام عبدالله د واده غونډې ته ور ننوت او مور یې نکریزې په ګوته ور پورې کړې سره له دې چې ناوې وویل د عاشقان و عارفان ټول کسان د فرنګي جګړې ته تللي دي او دلته د عبدالله واده دے ځوان عبدالله د واده له تخت څخه پورته شو ویې ویل رښتیا دي وویل په داسې ورځ کښې ښایي نارینه د جګړې په مېدان کښې وي نه د واده په ځای کښې زه لاړم که چېرته بېرته رانغلم زهرا به په هغه دنیا کښې

ووینم عبدالله خپل کور ته لاړ چاړه او تفنچه یې را واخیسته غره ته پورته شو"(۱۲).

مونږ په ناول کښې وینو چې هر کله عبدالله د زهرا د غوښتنې سره سم په قامي مبارزه کښې د برخې اخستلو دپاره د مبارزینو سره ملګرے شي په سبا د جګړې په ترځ کښې په شهادت ورسېږي چې د جګړې پای ته رسېدو څخه وروسته یې ملګري جنازه کور ته ور وړي چې هلته زهرا هم د عبدالله کور ته را شي او د عبدالله مور ته ډاډ او حوصله ورکړي او د ټول عمر لپاره د هغې سره د عبدالله په نوم د پاتې کېدلو وعده وکړي چې په اړه یې په ناول کښې داسې راغلي دي:

"یو ځوان قدم په قدم دښمن تعقیباوه---له مخامخ څخه یوه ګولۍ راغله او په تندي یې وموښتله دے ولوېد خو د اړخ ملګري په غېږ کښې ونیو او خپل بل ملګري ته یې ور غږ کړ راشه چې د برای شپې زوم په شهادت ورسېد ملګرے یې په چټکۍ راغے او چې ورته ویې کتل د عبدالله د سترګو تور ولاړل"(۱۳).

"دوو ملګرو د عبدالله جنازه را واخیستله عاشقان او عارفان ته یې راوړه دوی د یو نانوای له دکان څخه د عبدالله د کور پته واخیستله او کله چې یې د عبدالله جنازه د ده کور ته ننه ایستله مور یې په ژړا نارې کړې--- د مخامخ کوځې څخه یوه ځوانه ښځه له یوې دروازې څخه را ووتله او په ډېر متانت او ارامۍ د عبدالله کور ته راغله---ځوانې زهرا د عبدالله مور یو څه ارامه کړه او بیا یې وویل زه به د مرګ تر ګړیه د عبدالله پر نامه ناسته یم او تا ته به د یوې لور او عبدالله په شان خدمت وکړم دا دے اوس زه ستا کور ته راغلې یم او بیا به له دغه کور نه ځم"(۱٤).

د انګرېزانو سره د جګړې په حال کښې د عبدالله شهید کېدل، د عبدالله مړے د هغه مور ته ور سپارل او د زهرا له خوا د عبدالله مور ته ډاډ او تسلي ورکول او د ټول عمر دپاره د عبدالله په نوم د کښېناستلو وعده ورکول او خپله وعده په عمل کښې ثابتول تاریخي صداقت لري چې په اړه یې میر غلام محمد غبار لیکي:

"سبا مازیګر د عاشقان و عارفان مبارزین وروسته له هغې چې انګرېزي پوځونه تر شپرپور پورې جارو شوي وو د عبدالله مړے یې راوړ او د سپین سرې مور په کور کښې یې کېښود ناوې زهرا راغله او د عبدالله یوازې په نکریزو سره شوې ګوته یې ور ښکل کړه او بیا یې د هغه مور ته وویل مه ژاړه زه تر څو ژوندۍ یم د عبدالله پر ځای ستا زوی یم دغه جلکۍ لکه څنګه چې یې ژمنه کړې وه تر څو چې مړه شوه د عبدالله په کور کښې یې د عبدالله په نوم ژوند وکړ"(۱۵).

## ملالۍ مېوندۍ:

د افغان انګلیس د دوهمې جګړې په اړوندو تاریخونو کښې لیدل کېږي چې د افغان انګلیس د دوهمې جګړې پر مهال انګرېزي پوځونه له درې اړخونو افغانستان ته ننوزي چې د ټل او کرمې له لارې د جنرال رابرټس په مشرۍ انګرېزي لښکر په کابل کښې د مېجر کیوناري له قتلېدلو څخه وروسته ځانونه کابل ته رسوي او جنرال براون د خېل لښکر سره په جلال اباد کښې پاتي کېږي او جنرال سټیوارټ د بولان په دره کندهار ته ننوزي چې څه وخت وروسته یې سردار محمد ایوب خان چې په هرات کښې وي مقابلې ته کندهار ته ور روان شي چې د مېوند په مقام د افغانانو او انګرېزانو تر مېنځ یوه سخته او تاریخي جګړه را مېنځ ته شي چې انګرېزان پکښې ماتې وخوري او د کندهار ښار ته په تېښته کامیاب شي د مېوند دغه تاریخي جګړه چې د افغان انګلیس د دوهمې جګړې پر مهال په کال ۱۸۸۰ء کښې را مېنځ ته شوې ده د افغانانو په تاریخ کښې بشپړ شهرت او اهمیت لري چې په دغه جګړه کښې د ننګ او مېړانې یو ښځینه کردار ملاله مېوندۍ ده چې د تاریخ په پاڼو کښې خوندي ده او په دې ناول کښې یې تذکره راغلې ده. مونږ په ناول کښې وینو چې د مېوند تاریخي جګړې پر مهال یوه پېغله د نورو ښځو په ملتیا د زخمیانو مبارزینو ټوپکونه را اخلي او د دښمن په لښکر ورځي دغه ډول پېغله ملاله د مبارزینو د بېرغ حفاظت هم کوي چې د جګړې په دوران کښې د دښمن د ګولیو په خوړلو سره خپل ژوند له لاسه ورکوي چې په اړه یې په ناول کښې داسې راغلي دي:

"یوې پېغلې راځغستل او د یو عسکر له لاسه یې ټوپک واخیست-- او نورو ښځو ته یې ور نارې کړې-- نورو ښځو هم را وځغستل او د زخمیانو څخه یې ټوپکونه واخیستل او د مخامخ انګرېزانو پر لښکر ورغلې"(۱۶).

"د لښکر په مخ کښې ملالې بیرغ اوچت نیولے ؤ او د افغانانو ټولۍ له پروت څخه را ولاړ شو او مخامخ یې پرانګریزانو ور وځغستل د دوی دا ور پر مخ کېدل دومره ناڅاپي وو چې انګرېزانو یې انتظار نه ایست نو دا و چې پښې یې خطا شوې او شا ته یې منډې پیل کړې په دغه وخت کښې د انګرېز لښکرو څخه یوه نفر خپل ټوپک د ملالې ځیګر ته برابر کړ او چې فیر یې وکړ مرمۍ سمه د هغې په سینه کښې ومونښته دا ولوېده خو بېرغ یې اوچت ونیو"(۱۷).

د مېوند په تاریخي جګړه کښې د پېغلې ملالې کردار تاریخي صداقت لري چې د همدې جګړې په وجه تاریخ مونږ ته دغه پېغله د مېوندۍ ملالې په نوم را پېژني چې په دې جګړه کښې د ملالې مېوندۍ د کردار، برخې اخستلو او د شهادت مرتبې موندلو په اړه میر غلام محمد غبار، میرا جان سیال مومند او محمد ولي زلمي داسې لیکلي دي:

"په دغه مشهوره جګړه کښې چې انګرېزان یې په هند کښې ولړزول افغاني مېرمنو هم ګډون کړے وو د ځوانې پېغلې ملالې داستان چې د مېوند د جګړې په مېدان کښې یې د ملي عسکرو بېرغ د وژل شوي بېرغچي پر ځای په خپله اوږه ګرځاوه له همدې ځایه را مېنځ ته شو"(۱۸).

"جنګ ډېر سخت او لاس په لاس شو د غازیانو د ډلې نه ډېر بېرغ چیان شهیدان هم شو او لښکر بې عالمه پاتې شو نو پېغلې ملالۍ له خپل ټیکري نه بېرغ جوړ او په اوږه یې کړه او د جنګ مېدان ته په ډېر جرات را ووتله او افغاني غازیانو سره په جنګ کښې ور ګډه شو"(۱۹).

"ملاله د یو کوچني چوپان لور او د مېوند (کشک نخود) دایمي کوچۍ اوسېدونکې ده--- څرنګه چې دا هم اوس د خپلو ملګرو سره په شهادت رسېدلې ده باید د نورو غازیانو سره په همدغه بري کښې خاورو ته وسپارلې شي او د ملي افتخار جنډه باندې وربېږي"(۲۰).

د پورتنیو حوالو څخه څرګندېږي چې د افغان انګلیس په دوهمه جګړه کښې د ملالې مېوندۍ کردار او د دې کردار سره په ناول کښې راغلې او تړلې پېښې تاریخي صداقت لري. دغه ویاړلې مېرمن نه یوازې د مېوند په تاریخي جګړه کښې برخه اخلي بلکې د افغان مبارزینو بېرغ هم غورځېدو ته نه ورکوي او تر هغې په بشپړه مېړانه د دښمن په وړاندې جګړه کوي تر څو چې یې مړینه موندلې نه وي.

د دې مقالې د نتیجې په توګه مونږ مونږ ویلے شو چې په ناول کښې یاد شوي د افغان مېرمنو دا درې واړه کردارونه تاریخي صداقت لري او ددې کردارونو په اړه چې کوم څه د ناول برخه ګرځېدلي هغه له تاریخي متونو سره ډېر کم ټکر لري چې په خپل ځای یې لاژمي وضاحتونه وړاندې شول.

# حوالې


(۱) غبار، میرغلام محمد ،افغانستان د تاریخ په بهیرکې، ژباړن اورنګزېب ارشاد، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۱۵ء ص:۸۲۵.

(۲) سیال مومند، م ج، په نولسمه پېړۍ کښې د افغاني تاریخ څه برخه، یونیورسټي بک ایجنسي خېبربازار، پېښور، ۱۹۸۸ء ص:۴۴.

(۳) هاشمي، سید محی الدین، دافغانستان مشاهیر دویم ټوک، د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره، پېښور، ۱۳۷۹ص:۱۰۳.

(۴) زلمی، محمدولي، زمونږغازیان، دافغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۶۸، ص:۱۰۸.

(۵) عطايي، م ابراهیم، داسیاپه زړه کښې طوفان، مومندخپرندویه ټولنه، جلال اباد، دویم چاپ ۱۳۹۰ل، ص:۲۳۰.

(۶) زلمی، محمدولي، زمونږغازیان، ص:۱۰۹،۱۰۸.

(۷) عطايي، م ابراهیم، داسیاپه زړه کښې طوفان، ص:۲۲۸، ۲۲۷، ۲۲۶.

(۸) زلمی، محمدولي، زمونږغازیان، ص:۱۱۱، ۱۱۰، ۱۰۹، ۱۰۸.

(۹) عطايي، م ابراهیم، داسیاپه زړه کښې طوفان، ص:۲۳۳، ۲۳۲.

(۱۰) زلمی،محمدولي، زمونږغازیان، ص:۱۱۲، ۱۱۱.

(۱۱) عطايي،م ابراهیم،داسیاپه زړه کښې طوفان، ص:۲۳۹، ۲۳۸، ۲۳۶.

(۱۲) غبار،میرغلام محمد ،افغانستان دتاریخ په بهیرکښې، ص:۸۲۶،۸۲۵.

(۱۳) عطايي،م ابراهیم،داسیاپه زړه کښې طوفان، ص:۲۴۷، ۲۴۶.

(۱۴) ایضاً، ص:۲۴۸، ۲۴۷.

(۱۵) غبار،میرغلام محمد ،افغانستان دتاریخ په بهیرکښې، ص:۸۲۶.

(۱۶) عطايي،م ابراهیم،داسیاپه زړه کښې طوفان،ص:۲۹۰.

(۱۷) ایضاً،ص:۲۹۱.

(۱۸) غبار،میرغلام محمد ،افغانستان دتاریخ په بهیرکښې، ص:۸۳۸.

(۱۹) سیال مومند، م ج، ص:۶۸.

(۲۰) زلمی، محمدولي، دافغانستان د ځینونو میالیو او روښان فکر ومېرمنو لنډه پېژندنه، فهیم ولي خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۸۹ل، ص:۴۵.